# د ګناه
# پرېښودو اِنعام

06-February-2025

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پهٔ 6 فروری، کال 2025ء (8شعبان، کال 1446ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د ګناه پريښودو اِنعام

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---د 70 زرو کوټو والا جنَّتي کور
- ---د ګناه پريښودو سره عزت زياتيږي
- ---پهٔ وړه او لويه ګناه کښې فرق
- ---د ټولو نه افضل څوک---؟

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

﴿تجاويز و شکايات﴾

+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیِّیْن
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اربعين عطّار، قسط: 2، په صفحه: 16، حديثِ پاک نمبر: 16 دے:

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَ اٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:**

صَلَاتُكُمْ عَلَيَّ مُحْرِزَةٌ لِّدُعَائِكُمْ وَ مَرْضَاةٌ لِّرَبِّكُمْ وَزَكَاةٌ لِّاَعْمَالِكُمْ

**ترجمه:** ستاسو په ما باندې درودِ پاک لوستل ستاسو د دعاګانو د حفاظت کوونکي او ستاسو د رَبّ د رضا سبب او ستاسو د اعمالو د پاکوالي سبب دے۔ [(1)]

تا قیامت اُس بہارِ باغِ جنّت پر سلام
دل سے اُس جانِ جان پر چاہئے پڑھنا درود
بیدلؔ مسکین کا یاربّ! بھیجتا رہ تو مُدام

شانِ عزت، کانِ رحمت، جانِ عفت پر سلام
پہنچے امت سے شفیعِ جرمِ امت پر سلام
تا قیامت شافعِ روزِ قیامت پر سلام [(2)]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] …القول البديع، صفحه: 133۔

[2] …نورِ ایمان، صفحه: 44 ملتقطاً۔

# د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پۀ اَدب به کښینم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، بځپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د اللّٰه پاک پۀ فضل او د هغۀ پۀ رحمت سره د لوئي شان والا میاشت، شعبان شریف تشریف راوړے دے او مونږه د دې پۀ برکتي ګهړو کښې د ساه اخستو سعادت حاصلوو۔ شعبان شریف ډیره د عظمت والا میاشت ده، پۀ دې کښې د خیر او د برکت بارانونه وَریږي۔ طَیِّب او اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: شَعْبَانُ الْمُطَهِّرُ وَرَمَضَانُ الْمُكَفِّرُ شعبان پاکوونکې میاشت ده او رمضان کفاره ده۔ [2]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ❀ شعبان د عبادت میاشت ده ❀ پۀ کثرت سره د تلاوت کولو میاشت ده ❀ ❀ پۀ کثرت سره د درودِ پاک لوستلو میاشت ده ❀ پۀ کثرت سره د اِستغفار کولو میاشت ده۔ ❀ پۀ یو حدیثِ پاک کښې اِرشاد دے: دا هغه میاشت ده د کومې نه چې خلق غافله دي حالانکې پۀ دې میاشت کښې د خلقو اعمال د رَبُّ الْعٰلَمِين پۀ بارګاه کښې پیش کولے شي۔ [3] پۀ دې میاشت کښې ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام ته د هغه ټولو

1... بخاري، کتاب بدء الوحي، صفحه:65، حدیث:1۔

2... جامع صغير، صفحه:301، حدیث:4903۔

3... مسند احمد، جلد:9، صفحه:50، حدیث:22380۔

فهرست ورکولے شي، د کومو چې به پهٔ راتلونکي کال کښې رُوح قبض کولے شي- [1]
يعني دا ډيره د برکت والا مياشت ده، د دې سره سره ډيره نازکه مياشت هم ده چې پهٔ دې کښې نازکې فيصلې کيږي- ځکه مونږ له پکار دي چې پهٔ دې مبارکه مياشت کښې
❀ ښه ډير عبادتونه وکړو ❀ تلاوت وکړو ❀ د درودِ پاک کثرت وکړو ❀ د توبې او د اِستغفار کثرت وکړو ❀ د نفلي روژو کثرت وکړو او پهٔ دې مياشت کښې هم،او د دې سره سره هم پهٔ ټول ژوند کښې د ګناهونو نه هميشه ځان بچ اوساتو- **اللّٰه پاک** دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يوه خطبه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ 5 **شعبان شريف** د اِمامِ عالي مقام، اِمامِ عرشِ مقام، حضرت اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ولادت ورځ ده-

| | |
|---|---|
| مرحبا! سَرْوَرِ عالم کے پسَر آئے ہیں | سیدہ فاطمہ کے لختِ جگر آئے ہیں |
| واہ قسمت! کہ چراغِ حرمین آئے ہیں | اے مسلمانو! مبارک کہ حُسَیْن آئے ہیں[2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

راځئ چې د اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ذِکر نه د برکت اخستو د پاره د هغوئي د نصيحت نه يوه ډکه خطبه واورو: پهٔ روايت کښې دي چې: د کربلا پهٔ ورځ پهٔ **10 مُحَرَّم شريف** سحر اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ خطبه کښې وفرمائيل: اے د الله بندګانو! د **اللّٰه پاک** نه ويريږئ! او د دنيا نه بچ اوسئ! بے شکه پهٔ دې دنيا کښې که څوک هميشه

[1]... جامع صغير، صفحه: 369، حديث: 5964-

[2]... معجم الصحابه للبغوی، جلد: 2، صفحه: 14-

اوسيدلے نو ضرور به انبيائے کرام عَلَيۡهِمُ السَّلَام هميشه اوسيدل خو **الله پاک** دا دنيا د ازميښت د پاره پيدا کړې ده، دلته اوسيدونکي ټول د فنا کيدو د پاره جوړ کړے شوي دي، د دنيا نوي ځيزونه زړيدونکي دي، د دې ځائے نعمتونه ختميدونکي دي، د دې ځائے خوشحالۍ ختميدونکې دي، بس! د سفر سامان تيار کړئ! بے شکه د سفر بهترين سامان تقوىٰ ده، د **الله پاک** نه ويريږئ! د پاره د دې چې تاسو کامياب شئ---!! (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په مناسب او متوازنو الفاظو کښې څومره ښکلے نصيحت دے کوم چې اِمامِ حُسين رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ فرمائيلے دے، د دې خطبې بنياد 2 خبرې دي: **(1):** دا دُنيا فاني ده، څوک چې دلته راغلي دي، هغوئي به د دُنيا نه واپس ځي **(2):** کاميابي په دې کښې ده چې بنده د ګناهونو نه بچ شي او تقوىٰ اِختيار کړي- د اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ مشر ورور اِمامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: اَنَّ أَكۡيَسَ الۡكَيِّسِ التُّقٰى وَأَحۡمَقَ الۡحُمۡقِ الۡفُجُوۡرُ بے شکه د ټولو نه زيات عقل مند هغۀ دے څوک چې تقوىٰ اِختيار کړي (يعني د ګناهونو نه بچ شي) او د ټولو نه بيوقوف هغۀ دے څوک چې په ګناهونو کښې اخته اوسي- (2)

| | |
|---|---|
| عمل کا ہو جذبہ عطا یاالٰہی! | گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی! |
| میں پانچوں نمازیں پڑھوں با جماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی! |
| ہو اَخلاق اچھا ہو کردار سُتھرا | مجھے مُتّقی تُو بنا یاالٰہی! (3) |

[1]...تاريخ مدينه دمشق، جلد:14، صفحه:218-

[2]...حلية الاولياء، جلد:2، صفحه:46-

[3]...وسائل بخشش، صفحه:102-104 ملتقطاً-

## ګناه د الله پاک سره جنګ دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! خبره واقعي چې رښتني دہ، ګناه د ناداني نه علاوه هيڅ هم نۀ دہ، څوک چې پۀ ګناه کښې اخته وي، خپل وخت خو هسې هم بربادوي، ورسره ورسره خپل ځان د **الله پاک** د غضب حقدار هم جوړوي- پۀ قرآنِ کريم کښې **الله پاک** فرمائي:

مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ ۙ
(پاره:5، سورۀ نساء:123)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: څوک چې بدي کوي هغۀ ته به د هغې بدله ورکولے کيږي-

**الله! الله!** معلومه شوه چې څوک چې ګناه کوي، هغۀ د هغې بدله بياموي- حضرت اِمام حسن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به فرمائيل: اے اِبنِ آدمه! تۀ دې هلاک شي--!! آيا تۀ د **الله پاک** سره مقابله کول غواړې؟ آؤ! آؤ! **چا چې د الله پاک نافرماني وکړه لکه چې هغۀ د الله پاک سره جنګ وکړو-** (1)

## ګناه 10 بدۍ راوړي

د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: ګناه اګر که يوه وي خو د ځان سره 10 بدۍ راوړي: **(1)**: **ګناه کوونکے الله پاک له غضب** ورولي **(2)**: **ګناه کوونکے** اِبليس (يعنې شيطان) خوشحالوي **(3)**: **ګناه کوونکے** د جنَّت نه لرې او **(4)**: **دوزخ** ته نزدې کيږي **(5)**: **ګناه کوونکے** پخپله پۀ خپل ځان باندې ظلم کوي **(6)**: **ګناه کوونکے** خپل باطِن ناپاکوي **(7)**: **ګناه کوونکے** اَعمَال ليکونکو فرښتو له **تکليف** ورکوي **(8)**: **ګناه کوونکے** رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **غمژن کوي** **(9)**: **ګناه کوونکے** د زمکې او اسمان والا د ځان **خِلاف ګواه** جوړوي **(10)**: **ګناه کوونکے** د

[1] ... عُيُونُ الحکايات، حصه اوّل، صفحه:52-

انسانانو سره خيانت او د الله رَبُّ الْعٰلَمِين نافرماني کوي- (1)

بڑی کوششیں کیں گناہ چھوڑنے کی | رہے آہ! ناکام ہم یااِلٰہی!
جو ناراض تُو ہو گیا تو کہیں کا | رہوں گا نہ تیری قسم یااِلٰہی!
مجھے سچی توبہ کی توفیق دیدے | پئے تاجدارِ حرم یااِلٰہی! (2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ګناه واقعي ده چې ګناه ده، د ګناه صرف نقصانونه دي، فائده يـې يوه هم نشته، د اِمامِ حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمان مبارک بيا واورئ! فرمائي: اَنَّ اَكْيَسَ الْكَيِّسِ التُّقٰى د ټولو نه زيات عقل مند هغهٔ دے څوک چې تقویٰ اختيار کړي (يعني د الله پاک د ويرې نه ګناه پريږدي) وَاَحْمَقَ الْحُمْقِ الْفُجُوْرُ او د ټولو نه لوئي بيوقوف هغهٔ دے څوک چې ګناه کوي-

الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي، کاش چې مونږه د ګناهونو نه بچ کيدونکي جوړ شو-

## د ګناه پريښودو اِنعام

الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿۴۶﴾

(پاره:27، سورهٔ الرحمٰن:46)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او څوک چې د خپل رَب پهٔ دربار کښې د ودريدلو نه ويريږي د هغهٔ د پاره دوه جَنَّتونه دي-

---

[1]... آنسوؤں کا دریا، صفحہ:49-

[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:110 بتقدم و تاخر-

حضرت مُجاھِد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ډېر لوئي عالِم دے، تابعي بزرګ دے، هغوئي فرمائي: د دې آيت مبارک مطلب دا دے چې کوم بنده چې کله د ګناه اراده وکړي، بيا هغۀ ته د **الله پاک** پۀ حُضُور کښې حاضرېدل (د قيامت پۀ ورځ د هر يو عمل حساب ورکول) راياد شي او هغۀ د **الله پاک** د وېرې نه د ګناه اراده پرېږدي، ګناه پرېږدي، د داسې خوش قِسمته د پاره دوه جنتونه دي- [1] يو جنَّت د **الله پاک** نه د وېرې پۀ صِله کښې او بَل د نفس د خواهشاتو د پرېښودو پۀ صِله کښې دے- [2]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور وکړئ چې د **الله پاک** نه د وريدو سره به د هغۀ پۀ حُضُور کښې حاضري کيږي، دا خبره چې ياد وساتي او کوم بنده چې د ګناه نه بچ شي، د هغې څومره زبردست انعام دے، داسې نيک بخته ته به دوه جنتونه عطا کولے شي، هُغه جنَّتونه به هم څومره عالي شان وي؟ واورئ! **الله پاک** فرمائي:

ذَوَاتَاۤ اَفْنَانٍ ﴿۴۸﴾ (پاره:27، سورۂ الرحمٰن:48) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د ښاخونو والا دي-

يعني پۀ دغه جنتونو کښې د ميوؤ نه ډک باغونه دي، پۀ هر ښاخ باندې يـې قِسما قِسم ميوې دي- [3]

فِيْهِمَا عَيْنٰنِ تَجْرِيٰنِ ﴿۵۰﴾ (پاره:27، سورۂ الرحمٰن:50) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: پۀ هغو کښې دوه چينې بهيږي-

يعني پۀ دې دواړو جنتونو کښې د صفا او خوږو اوبو دوه چينې بهيږي، د يوې نوم: تَسنِيم دے- د بَلې نوم: سَلسَبِيل دے- [4]

---

1...تفسير درمنثور، پاره:27، الرحمٰن، زير آيت:46، جلد:7، صفحه:706-

2...تفسير خازن، پاره:27، الرحمٰن، زير آيت:46، جلد:4، صفحه:230-

3...روح البيان، پاره:27، الرحمٰن، زير آيت:48، جلد:9، صفحه:304 خلاصةً-

4...حاشية صاوى، پاره:27، الرحمٰن، زير آيت:50، جلد:3، جز:6، صفحه:44-

فِيۡهِمَا مِنۡ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوۡجٰنِ ﴿٥٢﴾

(پارہ:27، سورۂ الرحمٰن:52)

ترجمهٔ كنزُ العِرفان: پهٔ هٰغه دواړو جَنَّتونو کښې د هرې ميوے دوه دوه قسمونه دي-

پهٔ دغه جنتونو کښې دوه قِسمه ميوې دي، بعضې داسې دي د کومو پهٔ شان ميوې چې پهٔ دُنيا کښې هم ليدلے کيږي او بعضې داسې ناآشنا ميوي دي کومې چې چا هم نهٔ دي ليدلې- (1)

سُبۡحٰنَ الله! داسې بے مثاله جنَّتونه دي، د چا د پاره؟ څوک چې د **الله پاک** نه ويريږي او د ويرې نه گناه پريږدي-

| | |
|---|---|
| مرے اَشک بہتے رہیں کاش ہر دم | ترے خوف سے یاخدا یاالٰہی! |
| ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھرتھر رہوں کانپتا یاالٰہی! |
| گناہوں نے میری کمر توڑ ڈالی | مرا حشر میں ہو گا کیا یاالٰہی! (2) |

## دوه جنَّتونه يې نصيب شول

د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د خلافت د وخت خبره ده، يو ځلمے ډير تقوىٰ دار او پرهيزگاره وو- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ چې به هم د هغوئي عبادت وليدلو نو حيرانيدلو به- هٰغه ځلمي چې به کله د ماسخوتن نمونځ وکړو او کور ته به تللو نو پهٔ لاره کښې به يوې ښکلې زنانه هغهٔ د ځان طرف ته رابللو خو هٰغه د نيک طبيعت والا ځلمي به د هغې طرف ته بالکل هډو پام نهٔ کولو، نظر به يې ښکته ساتلو او تيريدلو به- يوه ورځ چې کله هغهٔ تيريدلو، زنانه هغهٔ خپل طرف ته راوبللو

1... روح البيان، پاره:27، الرحمٰن، زير آيت:48، جلد:9، صفحه:304-

2... وسائلِ بخشش، صفحه:105 ملتقطًا-

نو هغه ځلمے هم د هغې طرف ته مائل شو خو څنګه چې هغې زنانه ته ورنزدې شو نو هغهٔ ته د **الله پاک** دا فرمان ورياد شو:

اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا اِذَا مَسَّهُمْ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيْطٰنِ تَذَكَّرُوْا فَاِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ۚ﴿۲۰۱﴾

(پاره:9، سورۂ الاعراف:201)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه پرهيزګارو ته چې کله د شيطان له طرفه څهٔ خيال ورشي نو هغوئي (د **الله** حُکم) يادوي بيا پهٔ هُم هغه ساعت د هغوئي سترګې وغړيږي۔

د دې آيت مبارک د راياديدو سره د هغهٔ پهٔ زړهٔ باندې د **الله پاک** ويره غالبه شوه او هغهٔ بے هوشه شو او پهٔ زمکه باندې راپريوتلو۔

چې کله دا ډير وخت کور ته اونه رسيدلو نو د هغهٔ بوډا والد صاحب پهٔ لټون لټون هلته راورسيدو، هغهٔ يې رااوچت کړو او کور ته يې بوتللو۔ چې کله ځلمے پهٔ هوش کښې راغلو نو خپل والد صاحب ته يې ټوله واقعه بيان کړله، پهٔ واقعه بيانولو بيانولو چې کله هغهٔ بيا هغه آيت مبارک ولوستلو نو بيا پرې د **الله پاک** ويره غالبه شوه، هغهٔ يوه تيزه چغه ووهله او ساه يې ورکړله۔ هُم د شپې هغهٔ له غسل او کفن ورکړے شو او هغهٔ دفن کړے شو۔ سحر چې کله حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته ټوله واقعه معلومه شوه نو هغوئي د هغه ځلمي قبر له تشريف يوړلو او دا آيت مبارک يې ولوستلو:

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ۚ﴿۴۶﴾

(پاره:27، سورۂ الرحمٰن:46)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او څوک چې د خپل رَب پهٔ دربار کښې د ودريدلو نه ويريږي د هغهٔ د پاره دوه جَنَّتونه دي۔

د قبر نه هغه ځلمي جواب ورکړو او اوئې وئيل: يَا اَمِيرَ المُؤمِنِين! بے شکه زما رَبّ ما ته دوه جنَّتونه راعطا کړي دي۔ (1)

---

[1]... تاريخ مدينه دمشق، جلد:45، صفحه:450۔

## د الله پاک پۀ حُضُور کښې د حاضرۍ تصور

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے اِنعام دے- مونږ له هم دا صفت اختیارول پکار دي- هسې چې مونږه د بزرګانو د **الله پاک** نه د ویرې حالاتو ته وګورو نو د هغوئي څومره ښکلے شان دے---!! ❁ پۀ هغوئي باندې خو به د **الله پاک** د ویرې نه رَږ لګیدلو ❁ د هغوئي لیدونکو ته به داسې ښکاریدله چې اوس د حشر د میدان نه واپس راغلي دي ❁ هر وخت به ویریدلي، ترهیدلي وو ❁ د **الله پاک** د ویرې نه به یې ژړل ❁ د هغوئي پۀ اوښکو باندې به ګیره لمدیدله ❁ پۀ مخونو باندې به یې اوښکو نخښې جوړولې ❁ بے هوشه کیدل به- دا ډیر د اعلیٰ درجے حالات دي، **الله پاک** دې یې مونږ ته هُم د دغه نیکانو خلقو پۀ وسیله راعطا کړي- کم از کم پۀ هر مسلمان کښې خو دومره ویره پکار ده چې کله زمونږه پۀ زړۀ کښې د ګناه خیال راشي، شیطان مونږ له د ګناه دعوت راکړي نو مونږ ته د **الله پاک** پۀ حُضُور کښې ودریدل رایاد شي، تصور مو جوړ شي چې هٰغه د قیامت وحشت ناکه ورځ---!! ❁ چې کله به نمر وور ورروي ❁ زمکه به د اوسپنې وي ❁ سره به وي ❁ خلق به هم پۀ خپلو خولو کښې غوپې وهي ❁ مخکښیني وروستني به ټول حاضر وي ❁ قهر سره به مخامخ کیدل وي، رَبِّ کریم به پۀ هٰغه ورځ باندې داسې غضب فرمائي چې داسې غضب به هغۀ مخکښې چرې هم نۀ وي فرمائیلے، پۀ داسې وحشت ناکه مرحله کښې به زما نوم اخستلے کیږي او غږ به کولے شي: اے فلانکي د فلانکي زویه! د رَبّ پۀ حُضُور کښې حاضر شه---!!

هٰغه وخت به مونږه ویریږو، سرونه به مو ښکته وي، د شرم نه به مخونه پټوو خو آه! پۀ هٰغه ورځ باندې به د پټیدو ځائے چرته وي---!! فرښتے به مو پۀ راښکلو د رَبّ پۀ حُضُور کښې حاضر کړي- بیا به زمونږ نه زمونږ د اعمالو حساب اخستلے شي- پوښتنه به کولے

شي: اے فلانکيه! ❀ آيا تا له ژوند نۀ وو درکړے شوے؟ ❀ آيا تا ته نعمتونه نۀ وو عطا کړے شوي؟ ❀ آيا تا ته د حق پيغام نۀ وو درسيدلے؟ بيا تا ګناه ولې وکړه؟ هُغه وخت به زمونږ سره څۀ جواب وي--؟ آه! مونږه به ډير وشرميږو، هيڅ خبره به نۀ جوړيږي--!! آه! که هُغه وخت رَبِّ کريم غضب وفرمائيلو، زما پۀ ګناهونو يې زۀ راګير کړم او زما دوزخ ته د غورځولو حکم جاري کړے شو نو زما به څۀ کيږي--؟

گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہوگی | ہائے! میں نارِ جہنم میں جلوں گا یاربّ!
دردِ سر ہو یا بخار آئے تڑپ جاتا ہوں | میں جہنم کی سزا کیسے سَہوں گا یاربّ!
ڈنک مچھر کا سَہا جاتا نہیں، کیسے میں پھر | قبر میں بچّھو کے ڈنک آہ سہوں گا یاربّ!
گھپ اندھیرے کا بھی وَحشت کا بسیرا ہوگا | قبر میں کیسے اکیلا میں رہوں گا یاربّ![1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د رَبِّ کريم پۀ حُضُور کښې د حاضرۍ يو تصور دے- کاش! چې کله زمونږه زړۀ د ګناه طرف ته مائله کيږي نو مونږ ته دا حاضري رايادہ شي، د رَبِّ رحمان پۀ حُضُور کښې ودريدل راياد شي او مونږه ويريږو او د رَبِّ رحمان نه حيا راشي او پۀ ګناه پريښودو کښې کامياب شو- کم از کم چې د **الله پاک** نه دومره ويره هم نصيب شي نو زمونږه ژوند صحيح کيدے شي- هم دا هُغه ويره ده پۀ کومه باندې چې د دوو جنّتونو وعده فرمائيلے شوې ده-

## د 70 زره کوټو والا جنّتي کور

د حضرت کَعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے: پۀ جنَّت کښې د زبرجدو او د ملغلرو جوړ شوے يو عظيمُ الشان محل دے، پۀ دې کښې 70 زره کورونه دي، پۀ هر کور کښې 70 زره کوټې دي، پۀ دې عظيم الشان محل کښې به انبيائے کرام عَلَیۡهِمُ السَّلَام وي،

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:8584 بتقدم وتاخر-

صِدِّيقين به وي، شهيدان به وي، انصاف كوونكي بادشاهان به وي او هُغه كَس به وي كوم چې مُحَكَّم وي- عرض وكړے شو: مُحَكَّم څوک دے؟ اوئې فرمائيل: هُغه كَس چا له چې د حرام كار دعوت وركړے شي او هغهٔ د **الله پاک** د ويرې نه د هُغه حرام كار نه منع شي-[1]

ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھر تھر رہوں کانپتا یاالٰہی!( 2 )

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ګناه نه چې بچ شو نو عزت يـې نصيب شو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څوک چې د **الله پاک** نه ويريږي او د ګناهونو نه بچ شي، د هغهٔ نور كوم كوم انعامونه نصيب كيږي، واورئ! شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ خپله رساله **باحیانوجوان** كښې يوه ايمان تازه كوونكې واقعه بيان كړې ده او ليكلي يـې دي: پهٔ بصره كښې يو بزرګ وو كوم چې د مِسكِي پهٔ نوم باندې مشهور وو- مشكو ته پهٔ عربي كښې مِسک وئيلے شي- داسې د مِسكِي معنىٰ شوه: مشكبار يعني د چا د بدن نه چې د مشكو خوشبو راځي- هُغه بزرګ به هر وخت مشكبار او خوشبودار اوسيدلو- تر دې پورې چې پهٔ كومه يوه لاره باندې به تيريدلو نو د هُغې لارې نه به هُم خوشبو تلله! چې كله به جومات ته داخليدلو نو د هغوئې د خوشبو نه به خلقو ته معلومه شوه چې حضرت مِسكِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړے دے- يوه ورځ ورته چا عرض وكړو: حُضُور! تاسو به پهٔ خوشبو باندې ډيرې پيسې خرچ وئ ؟ اوئې فرمائيل: ما نهٔ چرې خوشبو اخستې ده او نهٔ مې لګولې ده- زما واقعه ډيره نا اشنا ده: زهٔ د بغداد شريف پهٔ يوه خوشحاله كورنۍ كښې پيدا شوم- لكه څنګه چې مالداره خلق خپل

[1] ... شعب الايمان، السابع والاربعون، باب فی معالجة كل ذنب بالتوبة، جلد:5، صفحه:412، حديث:7107۔

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه:105۔

اولاد له تعلیم ورکوي ما له هم هٔغسې تعلیم راکړے شو- زهٔ ډیر ښکلے او حیا دار ووم- زما والد صاحب ته چا ووئیل: دا پهٔ بازار کښې کښینوه چې دا د خلقو سره اشنا شي او د دهٔ حیا څهٔ کمه شي- نو زهٔ د یو کپړو خرڅولو والا پهٔ دکان کښې کښینولے شوم- یوه ورځ یوې بوډۍ څهٔ قیمتي جامې راویستلې، بیا یې کپړو والا ته ووئیل: زما سره څوک ولیږه چې کومې کپړې خوښې شي د هغې د اخستو نه پس به قیمت او باقي پاتې کپړې واپس راوړي- کپړو خرڅولو والا زهٔ د هغې سره ولیږلم- بوډۍ زهٔ یو عظیمُ الشان محل ته بوتلم او ښکلے کړے شوې کمرې ته یې بوتلم- څهٔ ګورم چې پهٔ کالو ښائسته او ښه جامو والا ښکلې جینۍ پهٔ تخت باندې ناسته ده- زهٔ یې چې ولیدم نو پهٔ هٔغې جینۍ باندې شیطان غالب شو او هغهٔ زما طرف ته راغله او چیړل یې شروع کړل او بدکاري کول یې غوښتل- زهٔ ویریدم او وه مې وئیل: د **الله پاک** نه ویریږه! خو پهٔ هغې باندې شیطان پوره مسلط شوے وو- چې ما کله د هغې ضِد ته وکتل نو د ګناه نه د بچ کیدو یو تجویز مې ذهن ته راغلو او هغې ته مې ووئیل: زهٔ اِستِنجاء خانې ته تلل غواړم- هغې چې اواز وکړو نو د څلور واړو طرفونو نه وینزې راغلې، هغې ووئیل: خپل آقا بیتُ الخَلاء ته بوځئ- زهٔ چې کله هلته لاړم نو د تښتیدو هیڅ لار پهٔ نظر نهٔ راتلله، ما له د خپل رَبّ نه حیا راتلله چې د هٔغې زنانه سره بدکاري وکړم او پهٔ ما باندې د دوزخ د عذاب ویره غالبه وه- نو هُم یوه لار ره پهٔ نظر راغله او هغه دا چې ما د اِستِنجا خانې نجاست [یعنې پلیتي] پهٔ خپل لاس مخ وغیره باندې ومږله او ښه سترګے مې پرې راویستې او هٔغه وینزه مې ویروله کومه چې د رومال او اوبو پهٔ لاس ولاړه وه، چې کله د لیونو پهٔ شان پهٔ چغو د هغې طرف ته ورغلم نو هغهٔ ویریدله او منډې یې کړې او هغې د لیوني، لیوني چغې شروع کړې- ټولې وینزې راټولې شولې او هغوئي ټولو پهٔ شریکه زهٔ پهٔ یو ټاټ کښې راونغښتم او اوچت یې کړم او پهٔ یو باغ کښې یې وغورځولم- زما چې کله یقین راغلو چې ټولې وینزې تلې دي نو راپاڅیدم او خپلې جامې

او بدن مې وينځلو او پاک مې کړو او خپل کور ته راغلم خو چا ته مې دا خبره ونکړه- پۀ هغه شپه ما پۀ خوب کښې وليدل چې څوک وائي: ستا د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام سره څومره ښکلے مناسبت دے او وائي چې آيا تۀ ما پيژنې؟ ما ووئيل: نۀ- هغوئي ووئيل چې زۀ جبريل يم- د دې نه پس هغوئي زما پۀ مخ او بدن باندې لاس راښکلو- د هغه وخت نه زما د بدن نه د مشکو بهترينه خوشبوئي ځي- دا د حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د لاس خوشبوئي ده- (1)

| | |
|---|---|
| گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی! | بُری عادتیں بھی چُھڑا یاالٰہی! |
| خطاؤں کو میری مٹا یاالٰہی! | مجھے نیک خَصلت بنا یاالٰہی!( 2 ) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## حياء د ايمان نه ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تاسو وکتل چې حيا داره ځلمے د الله پاک د ويرې او د ګناهونو نه د نفرت پۀ برکت د بد کار نه محفوظ شو- د دې نه معلومه شوه چې د ګناهونو نه پۀ بچ کيدو کښې د حيا ډير زيات لاس دے- الله پاک چې د حيا دولت عطا کړي نو انسان پۀ ګناه باندې د قدرت لرلو باوجود د ګناهونو نه پۀ بچ کيدو کښې کامياب شي- کاش چې زمونږه هم دا دولت نصيب شي، کاش چې د الله پاک ويره، د هغۀ پۀ بارګاه کښې د حاضرئ ويره او حيا مو نصيب شي- پۀ حديث شريف کښې دي: حياء د ايمان نه ده- (3) پۀ يو بَل حديث شريف کښې دي: بے شکه حيا او ايمان دواړه پۀ خپل مينځ کښې ميلاؤ دي چې کله يو لاړ شي نو بَل هم اوچت کړے شي- (4)

---

[1]… روض الرياحين، صفحه:334۔

[2]… وسائلِ بخشش، صفحه:100۔

3… بخاری، کتاب الايمان، باب الحياء من الايمان، صفحه:76، حديث:24۔

[4]… مستدرک، کتاب الايمان، جلد:1، صفحه:176، حديث:66۔

## ویلنټائن ډے یعنې د بے حیایۍ ورځ

**اللّٰه پاک** دې زمونږه د حیا دولت نصیب کړي- نن سبا حالات ډیر خراب دي، حیا خو لکه چې پۀ ورو ورو ختمیږي، مثلاً د 14 فروری پۀ ورځ د ویلنټائن ډے پۀ نوم داسې بے حیائي کیږي چې اَلاَمان وَالحِفیظ---!! هلکان او جینکۍ د یو بل سره میلاؤیږي ❁ د محبتونو اظهار کیږي ❁ د تحفو لین دین کیږي او مَعَاذَاللّٰه! د فحاشۍ ښې ډیرې مظاهرې کیږي- **اللّٰه پاک** دې زمونږ پۀ حال باندې رحم وکړي، خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! یقین وکړئ چې بے پردګي، د هلکانو او جینکو داسې بے حیائي سخته کبیره ګناه ده، **اللّٰه پاک** پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

قُلْ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ یَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَ یَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْؕ (پاره:18، سورهٔ نور:30)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: مسلمانانو سرو ته حُکم وکړه چې خپلې سترګې څۀ ښکته ساتي او د خپلو شرم ګاهونو حفاظت دې کوي-

پۀ **مشکوٰة شریف** کښې دي، حیا دار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: لَعَنَ اللّٰهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرَ اِلَیْهِ یعنې کتونکے او د چا طرف ته چې وکتلے شي پۀ دې دواړو باندې **اللّٰه پاک** لعنت فرمائي- (1)

یعنې څوک چې قصداً عمداً غیر مَحرَمه ته وګوري او څوک چې غیر مَحرَمه ته قصداً عمداً خپل ځان وښائي، پۀ دې دواړو باندې د **اللّٰه پاک** لعنت دے- (2)

د ابو داؤد شریف پۀ حدیثِ پاک کښې دي: وَالْیَدَانِ تَزْنِیَانِ فَزِنَاهُمَا الْبَطْشُ، وَالرِّجْلَانِ تَزْنِیَانِ فَزِنَاهُمَا الْمَشْیُ او لاسونه زنا کوي او د دې زنا (حرام) نیول دي او ښپې زِنا کوي او د دې زِنا (د حرامو طرف ته) تلل دي- (3)

---

1... مشکاة، کتاب النکاح، جز:2، جلد:1، صفحه:574، حدیث:3125۔

2... مرقاة المفاتیح، کتاب النکاح، جلد:6، صفحه:264، زیرِ حدیث:3125۔

3... ابو داود، کتاب النکاح، باب فیما یؤمر ...الخ، صفحه:342، حدیث:2153۔

## د ویلنټائن ډے حصه مهٔ جوړیږئ!

دلته چې بعضې کوم خلق مذهبي ذِهن لري، د هغوئي دا ذِهن جوړيږي چې مونږه ويلنټائن ډے د بے حيايۍ پهٔ طور نهٔ بلکې پهٔ ښه انداز کښې نمانځو، هغه داسې چې مونږه به پهٔ دې ورځ باندې د خپلو وروو مور له ګل ورکړو، خپلې مور له به ګُل ورکړو او د هغوئي زړهٔ به خوشحاله کړو- دا هم نهٔ دي کول پکار- پهٔ حديثِ پاک کښې دي: مَنْ كَثَّرَسَوَادَقَوْمٍ فَهُوَمِنْهُمْ چا چې د يو قوم شميره زياته کړه، هغهٔ هم د هغوئي نه دے- (1)

ځکه پهٔ دغه ورځ باندې د ګلونو اخستو او د داسې قِسمه کارونو نه هُم ډډه کول پکار دي، هسې هم خاص طور پهٔ 14 فروریٰ ګلونه وغيره اخستل د بد ګمانیٔ سبب جوړيدے شي، بزرګان فرمائي: اِتَّقُوْامَوَاضِعَ التُّهَمِ يعنې د تهمت د ځايونو نه بچ اوسئ ---!! (2) ځکه پهٔ ويلنټائن ډے کښې پهٔ يوه طريقه هم خپله حصه مهٔ شاملوئ! **الله پاک** دې مونږه د ويلنټائن ډے او پهٔ دې باره کښې د بے حيايۍ او فحاشیٔ نه **محفوظ** کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ہر گھڑی شرم و حیا سے بس رہے نیچی نظر | پیکرِ شرم و حیا بن کر رہوں آقا مُدام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ګناه پريښودو سره عزت زياتيږي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه د حضرت مِسکِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ايمان تازه کوونکې واقعه واوريدله، پهٔ دې واقعه کښې يوه ايمان تازه کوونکې خبره دا ده چې حضرت مِسکِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ګناه نه د بچ کيدو د پاره خپل عزت پهٔ داؤ ولګولو، خپل ځان يې بدبوداره

---

1...مسند فردوس، جلد:3، صفحه:519، حديث:5621-

2...كشف الخفاء، جلد:1، صفحه:37-

کړو خو **الله پاک** هغوئي له دا انعام ورکړو چې هغوئي يــې خوشبوداره کړل، تر دې پورې چې هغوئي به په کومه کوڅه هم تيريدل، هغه کوڅه به د خوشبويو نه معطر کيدله- د دې نه معلومه شوه چې څوک د ګناهونو نه بچ شي، **الله پاک** د هغۀ عزت زياتوي-

## د ګناه د پرېښودو بهترينه بدله

حضرت اَبُو قَتَادَه او اَبُو دَهمَاء رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡھِما دواړه تابعي بزرګان دي، د دې دواړو بزرګانو عادت وو چې د مکې مکرمې سفر به يــې ډير په رغبت سره کولو، ډير ځل مکې مکرمې ته حاضر شول، فرمائي چې يو ځل چې کله د حاضرۍ سعادت نصيب شو نو د يو صحابئ رسول رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د زيارت شرف حاصل شو، هغوئي د کلي اوسيدونکـي وو، هغوئي حديثِ پاک بيان کړو او اوئې فرمائيل: يو ځل اخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّد عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما لاس ونيولو او د دِين خبرې ښودل يــې راته شروع کړلې، په دې کښې يــې وفرمائيل: اِنَّكَ لَنْ تَدَعَ شَيْئًا اتِّقَاءَ اللّٰهِ اِلَّا اَعْطَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا مِّنْهُ يعني که تۀ د **الله پاک** د ويرې نه څۀ پرېږدې نو **الله پاک** به تا ته د هغې نه بهتر عطا کړي- (1)

سُبۡحٰنَ اللہ! معلومه شوه چې څوک د **الله پاک** د ويرې نه ګناه او بدي پرېږدي، **الله پاک** د هغۀ هغه عمل نۀ ضائع کوي بلکې د هغې نه بهتره بدله ورته عطا کوي، مثلاً ❀ د سود د لين دين موقع ورسره وه، مال هم زيات ښکاره کيدلو، بيا يــې هم بنده پرېږدي چې سود ګناه ده، ځکه په دې کښې نۀ اخته کيږم ❀ په ظاهره په نظر راځي چې په دروغو وئيلو دکان ښه چليږي، بنده بيا هم دروغ اونه وائي چې دروغ وئيل د ګناه کار دے ❀ د دروغو قَسمونو په خوړلو سودا خرڅيدل ورته ښکاري ،خو انسان بيا هم د دروغو قَسم نۀ خوري ❀ په زړۀ کښې د ګناه خواهش راځي خو بنده دغه خواهش غلے کوي، په ګناه کښې نۀ

---

[1]… مسند احمد، جلد:8، صفحه:350، حديث:21282-

اخته کيږي، نو **الله پاک** د دې پرېښودو، د ګناه نه د بچ کيدو او د دغه خواهش نه د منع کيدو بهترينه بدله په دُنيا کښې هم عطا کوي-

## عجيبه لوهار(انګر)

علّامه اِبنِ جوزي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ يوه واقعه ليکلې ده، ډيره ښکلې واقعه ده، يو بزرګ وو، هغوئي فرمائي: ما يو لوهار (انګر)وليدلو، ډير عجيبه وو، هغۀ به اوسپنه په بټۍ کښې کيښودله، هغه به يــې ګرموله او بيا به يــې د وور نه هغه په لاسونو باندې بهر راويستله- يعنې د اوسپنې د وور نه د راويستو د پاره به يــې څۀ چمټه، څۀ آله وغيره نۀ استعمالوله، ډائريکټ به هم په لاس باندې د وور نه راويستله- بيا به يــې هغه ګرموله او هم په لاس باندې به يــې اړوله راړوله- د وور کار خو سيزل دي، که هر څوک هم وي نو هغۀ سوزوي خو د حيرانتيا خبره وه چې هُغه عجيبه لوهار ته وور هيڅ هم نۀ وئيل-

هُغه بزرګ فرمائي چې ما د هغوئي نه د دې وجه اوپوښتله نو هُغه لوهار عجيبه واقعه بيان کړه، اوئې وئيل: زۀ ډير ګنهګار ووم، يو ځل يوه ښکلې زنانه زما خوا له راغله، هغۀ مجبوره وه، هغې زما نه د مدد سوال وکړو خو زۀ خو ګنهګار ووم--!! زۀ بے لارې شوم، په زړۀ کښې مې د بدکارۍ خواهش راوچت شو، ما د هغې د مجبورۍ نه د فائدې اخستو سره ووئيل: تۀ زما سره کور ته لاړه شۀ! تا له به دومره څه درکړم چې ټولې پريشانۍ به دې ختمې شي- هغۀ شريفه زنانه وه، هغې زما وړانديز [يعنې پيشکش] قبول نکړو او واپس لاړله- لږ وخت پس په ژړا باندې واپس راغله، اوئې وئيل: زۀ د وخت د لاسه مجبوره يم، څۀ مدد راسره وکړئ!

په دې ځل هغې زما وړانديز قبول کړو، ما هغۀ د ځان سره کړه او کور ته لاړم، چې کله زۀ هغې ته ورنزدې شوم نو هغۀ په رپيدو شوه، هغۀ داسې رچيدله لکه چې په طوفان

کښې انښتې کشتۍ جټکې وهې- ما چې ترينه د دې حالت پوښتنه وکړه نو اوئې وئيل: زهٔ د **اللّٰه پاک** د ويرې نه رچيږم، آه! دا وخت مونږه د ګناه طرف ته ځو او **اللّٰه پاک** مونږ ته ګوري- **اللّٰه پاک** دې پهٔ دُنيا او پهٔ اخرت کښې تا د وور نه **محفوظ** کړي، د خُدائے د پاره ما پريږده!

هٰغه لوهار وائي چې ما هغهٔ پريښودله، هغهٔ پهٔ تادۍ باندې لاړه- د هغې نه پس ما خوب وليدلو چې يوه زنانه ده، ما ترينه پوښتنه وکړه: تهٔ څوک يې؟ اوئې وئيل: زهٔ د هٰغې جينۍ مور يم، مونږه د سيدانو د کورنۍ نه يو، تا زما د لور سره ښيګړه وکړه، **اللّٰه پاک** دې تا له د دې جزا درکړي او پهٔ دُنيا او پهٔ اخرت کښې دې تا د وور نه **محفوظ** کړي- **بس هٰغه ورځ وه او نن ورځ ده چې د دې دُنيا وور ما ته نقصان نهٔ رارسوي-** [1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دے د ګناه د پريښودو اِنعام--!! واقعې ده چې څوک ګناه پريږدي، د **اللّٰه پاک** د ويرې له وجهې د هغهٔ د نافرمانۍ نه ډډه وکړي، **اللّٰه پاک** هغهٔ ته بهترينه بدله عطا کوي-

## كِفل او بخښلے شو

د ګناه د پريښودو يو بَل اِنعام واورئ! پهٔ حديثِ پاک کښې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا واقعه بيان کړې ده، واقعه څهٔ ده؟ واورئ! د بني اسرائيلو يو ګس وو، د هغهٔ نوم کِفل وو، ډير ګنهګار وو، يو ځل يوه زنانه د هغهٔ خوا له راغله، هغهٔ مجبوره وه، پهٔ کور کښې ورته ماشومان وږي وو، هغهٔ د څهٔ مال پهٔ طلب کښې وه، کِفل د هغې د مجبورۍ نه فائده اخستل غوښتل، نو اوئې وئيل: تهٔ زما هَوَس پوره کړه، زهٔ به ستا ضرورت پوره کړم- زنانه مجبوره وه، هغهٔ د دې کار د پاره تياره شوه خو څنګه چې ګناه ته

---

[1]...الزہر الفاتح لابن جوزی، صفحه:14-

نزدې شوه نو پۀ هغې باندې د **الله پاک** ويره غالبه شوه، هغۀ پۀ ږچيدو شوه، هغۀ چې يـې پۀ ږچيدو وليدله نو **كِفل** ترينه پوښتنه وكړه: څۀ وشول؟ ولې ږچيږې؟ زنانه ووئيل: ما چرته داسې حركت نۀ دے كړے، نن مې د بچو لوږه نۀ شوه ليدلے، ځكه مجبوره شوم- زۀ د **الله پاک** پۀ حُضُور كښې د حاضرۍ د ويرې نه ږچيږم- دا يـې چې واوريدل نو **كِفل** لرې شو، بغير د لالچ نه يـې د هغې زنانه مدد وكړو او هغۀ يـې پۀ عزت او احترام سره رخصت كړه- بيا پۀ بني اسرائيلو كښې دستور دا وو چې كوم بنده به څۀ ګناه وكړه نو پۀ بله ورځ به د هغۀ پۀ دروازه باندې هغه ګناه ليكلے شوې وه، خلق به روزانه د **كِفل** پۀ دروازه باندې تيريدل، د هغۀ د ګناهونو فهرست به يـې ليدلو او د هغۀ نه به يـې نفرت كولو، پۀ هغه ورځ چې كله **كِفل** د زنانه سره ښيګړه وكړه، د **الله پاک** د رضا د پاره د ګناه نه منع شو نو د قدرت كار ته وګورئ چې هُم پۀ هغه شپه باندې **كِفل** وفات شو، چې سحر شو نو د هغۀ پۀ دروازه باندې ليكلي وو: اِنَّ اللّٰهَ قَدْ غَفَرَ لِلْكِفْلِ بے شكه **الله پاک** كِفل بخښلے دے-[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وګورئ چې د ګناه پريښودو څنګه څنګه انعامونه دي، بنده ګنهګار وو، د بد كردار والا وو، چې كله هغۀ د **الله پاک** د رضا د پاره ګناه پريښودله، د يوې مجبورې زنانه مدد يـې وكړو نو د **الله پاک** د هغۀ دا ادا خوښه شوله او هغۀ يـې اوبخښلو- كاش چې زمونږه هم توفيق نصيب شي، زمونږه هم د **الله پاک** پۀ حُضُور كښې د حاضرۍ ويره نصيب شي او مونږه صرف او صرف د **الله پاک** د رضا د پاره، د هغۀ د ويرې له وجهې د ګناهونو نه بچ كيدونكي جوړ شو-

## د منافق يو علامت

زمونږه يوه لويه مسئله ده چې پۀ ګناهونو كولو كولو مو زړۀ زنګ شوے دے، اوس

[1]... ترمذی، ابواب صفة القيامة...الخ، صفحه:590، حديث:2496۔

زمونږ سره د ګناهونو د سختئ احساس نهٔ وي، هډو دا احساس راسره هم نهٔ وي چې زهٔ د چا نافرماني کووم- ياد ساتئ چې د زړهٔ دا حالت د ډيرې غټې خطرې نخښه ده- پهٔ **حديث شريف** کښې دي: اِنَّ الْمُؤْمِنَ يَرٰى ذُنُوْبَهٗ كَاَنَّهٗ قَاعِدٌ تَحْتَ جَبَلٍ يَخَافُ اَنْ يَّقَعَ عَلَيْهِ وَاِنَّ الْفَاجِرَ يَرٰى ذُنُوْبَهٗ كَذُبَابٍ مَرَّ عَلٰى اَنْفِهٖ يعنې مؤمِن خپلو ګناهونو ته داسې ګوري لکه چې هغهٔ د يوغر د لاندې ناست دے او ويريږي چې هسې نهٔ هُغه غر پهٔ هغهٔ باندې را وه نهٔ غورځيږي او منافق خپلې ګناه ته داسې ګوري، لکه چې يو مچ دے کوم چې د هغهٔ پهٔ پوزه باندې تير شو- [1]

الله! الله! معلومه شوه چې ګناه معمولې ګڼل د منافق نخښه ده- آه! نن سبا خو دلته دا د معمول خبره ده ❁ خلق ګناهونه کوي ❁ نمونځونه قضا کوي ❁ جوماتونه شاړ دي ❁ پهٔ بازارونو کښې دروغ، دوکه، ټګي عامه ده ❁ د کورونو نه لکه چې سنيماګانې جوړې شوې دي ❁ فلمونه، ډرامې، موسيقي وغيره پهٔ هر کور کښې چليږي، د دې باوجود زمونږ سره د دې ګناهونو هډو احساس هم نشته- **الله پاک** دې مونږ ته پوهه راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## پهٔ وړه او لويه ګناه کښې فرق

علمائے کرام فرمائي: د بنده نه چې کله ګناه وشي او هغهٔ هغه معمولي اونه ګڼي، ډيره غټه ګناه يې وګڼي او د **الله پاک** نه ويريږي نو داسې ګناه د رَبّ پهٔ حُضُور کښې وړه ده (يعنې د هغهٔ د دې ويرې پهٔ وجه هُغه ګناه بخښلے کيږي) او که بنده ګناه وکړي، بيا هغه معمولي وګڼي نو هُغه ګناه ډيره غټه ده ځکه چې پهٔ هغې باندې به نهٔ هغهٔ شرميږي، نهٔ به يې پريږدي او نهٔ به د هغې د معافئ ذريعه جوړيږي- [2]

---

[1] ... بخاری، کتاب الدعوات، باب التوبة، صفحه:1559، حديث:6308۔

[2] ... تنبيه الغافلين، باب ما جاء في الذنوب، صفحه:209۔

## د ګناه نه پس 4 بدۍ

حضرت عوّام بن حَوشَب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د ګناه کيدو نه پس 4 بدۍ داسې دي کومې چې د ګناه نه هم ډيرې بدې دي: (1): اِستِصغَار (يعني ګناه معمولي ګڼل) (2): اِغتِرَار (غافِله کيدل) (3): اِستِبشَار (يعني خوشحاليدل، د الله پاک پۀ حُضُور کښې د حاضرۍ نه نۀ ويريدل) (4): او اِصرَار (يعني پۀ ګناه باندې کلک ودريدل، توبه نۀ کول)۔ [1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ګناه کيدل د انسان فطرت دے يعني زمونږه پۀ شان د عامو انسانانو نه ګناه کيږي خو مونږ له د دې څلورو بدو نه هُم بچ کيدل پکار دي ❀ چې ګناه وشي نو هغه دې معمولي نۀ ګڼو، دا نۀ وايو چې هيڅ نۀ دي شوي، خو وړه شان غلطي شوې ده کنه، الله پاک رحمان دے، وه به يې بخښي۔ دا ډيره لويه ناداني ده۔ شوي دي، ډير څۀ شوي دي، الله پاک کوم چې جبّار او قهار دے، د هغۀ نافرماني شوې ده، آيا دا معمولي خبره ده---؟ نۀ، هيڅکله هم نۀ۔ دا معمولي خبره نۀ ده، ډيره غټه خبره ده ❀ پۀ ګناه باندې غرور نۀ کوو ❀ چې ګناه شوې ده نو بيا پۀ هغې باندې نۀ خوشحاليږو، ويريږو، آه! زما نه ګناه شوې ده، هئ! هئ! زۀ به د رَبِّ کريم حُضُور ته څنګه ځم، څۀ جواب به ورکووم، دا سوچ وکړئ او ويريږئ، د قبر او د حشر تصور شروع کړئ او پريشانه شئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! دا پښيماني به مو پۀ کار راشي او ❀ څلورمه خبره دا چې ګناه وشوه نو بيا پۀ هغې باندې کلک اونه دريږو، زر تر زره هغه ګناه پريږدو او د توبې طرف ته لاړ شو۔ راځئ چې زۀ تاسو ته يو څو حديثونه او روايتونه بيان کړم:

## د ټولو نه لوئي عبادت ګزار

صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته وفرمائيل: اے ابو هريره! وَرَع اختيار کړه! (يعني پرهيزګاره شۀ!)

[1]... تنبيه الغافلين، باب ما جاء فى الذنوب، صفحه:209۔

د ټولو نه لوئي عبادت ګزاره به شي۔ [1]

## وَرَع څۀ ته وئيلے شي؟

وَرَع (يعنې پرهيزګاري) څۀ ته وئيلے شي؟ دا هم واورئ! حضرت ابراهيم بن ادهم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: اَلۡوَرۡعُ تَرۡكُ كُلِّ شُبۡهَةٍ يعنې د شک والا خبرې پرېښودل وَرَع (يعنې پرهيزګاري) ده۔ [2]

يعنې يو دي: ګناه پرېښودل۔ مثلاً مونږ ته معلومه ده چې ❁ دروغ وئيل ګناه ده ❁ د سود لين دين ګناه ده ❁ غيبت کول ګناه ده ❁ چغلي ګناه ده ❁ د ګاؤنډيانو تنګول ګناه ده ❁ مسلمانانو ته ضرر رَسَوَل ګناه ده ❁ مور پلار تنګول ګناه ده ❁ شراب څښل ګناه ده ❁ حرامو ته کتل ګناه ده ❁ حرام اورېدل ګناه ده ❁ پۀ مجازي عشق کښې اخته کېدل او د بے شرمۍ او د بے حيايۍ کارونه کول ګناه ده۔ غرض دا هُغه خبرې دي د کومو چې ګناه کېدل واضح دي، دا خو خامخا پرېښودل دي، وَرَع د دې نه مخکښې څيز دے، هغه څۀ؟ يو کار دے، واضح معلوم نۀ دے چې ګناه ده که نۀ ده، شک دے، يا بيا دا خطره ده چې که زۀ پۀ دې کار کښې اخته شوم نو د دې پۀ سبب به ګناه ته ورسيږم، مثلاً د فيس بک استعمال۔ دا ښه هم کېدے شي، بد هم کېدے شي خو چې بنده ته د ټيکنالوجۍ پته نۀ وي، پۀ اِسلامي نظر سره د هغې ښه سيټنګ نشي کولے، هغۀ ته معلومه ده چې که زۀ فيس بک کولاو کړم نو د بد نظرۍ نه بچ کېدل به ګران شي، اوس هغۀ د دې شک پۀ وجه چې پۀ فيس بُک باندې د بد نظرۍ نه بچ کېدل ګران دي، څکه هغۀ فيس بُک نۀ کوي، دا وَرَع ده۔ پرهيزګاري ده۔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پرهيزګاره

---

[1]… موسوعه ابن ابي دنيا، کتاب الوراع، جلد:1، صفحه:195، حديث:3۔

[2]… رساله قشيريه، باب الوراع، صفحه:146۔

شۀ! د ټولو نه لوئي عبادت ګزار به جوړ شې- [(1)]

## د اللّٰه پاک محبوب بندګان

پۀ يو حديثِ پاک کښې دي: سبا د قيامت پۀ ورځ باندې به د **اللّٰه پاک** محبوب بندګان وَرَع (يعنې پرهيزګاره) خلق وي- [(2)]

## د ټولو نه افضل څوک؟

يو ځل د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ د خلقو نه پوښتنه وکړه: اَیُّ النَّاسِ اَفۡضَلُ؟ يعنې د ټولو نه افضل بنده څوک دے؟ خلقو ووئيل: **نـمونځ کوونکے**- اوئې فرمائيل: نـمونځ کوونکے بعضې وخت ګناه هم کوي، نيکئ هم کوي (يعنې دا خو هم ممکن ده چې بنده نـمونځ خو کوي، خو پۀ نور قِسمه ګناهونو کښې اخته دے، ځکه نـمونځ کوونکے افضل نشي کيدے)- خلقو بيا عرض وکړو: **د خُدائے پۀ لاره کښې جنګ کولو والا**- هغوئې وفرمائيل: دا هم ګناه هم کوي، نيکئ هم کوي- خلقو ووئيل: **روژه نيوونکے د ټولو نه افضل دے**- اوئې فرمائيل: روژه نيوونکے هم کله ګناه کوي، نيک کار هم کوي- اخر حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ هُم پخپله وفرمائيل: د ټولو نه افضل بنده **صاحِبِ وَرَع** (يعنې پرهيزګاره) دے- بے شکه د وَرَع (يعنې د پرهيزګارئ) پۀ ذريعه د انسان نيکئ مکملې شي- [(3)]

سُبْحٰنَ اللّٰہ! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د سبق نه ډک روايت دے، واقعي ده چې څومره داسې خلق دي څوک چې نـمونځونه پۀ پابندئ سره کوي خو دروغ وائي، د سود

---

[1]... موسوعه ابن ابی دنيا، کتاب الوراع، جلد:1، صفحه:195، حديث:3۔

[2]... موسوعه ابن ابی دنيا، کتاب الوراع، جلد:1، صفحه:197، حديث:15۔

[3]... موسوعه ابن ابی دنيا، کتاب الوراع، جلد:1، صفحه:198، حديث:18۔

لین دین هم کوي، کنځلې هم کوي، غیبتونه او چغلیانې هم کوي ❁ نورو خلقو له تکلیف هم ورکوي ❁ ځومره روژه نیوونکي داسې دي کوم چې د لوږې او تندې نه علاوه هیڅ نهٔ حاصلوي، روژه یې نیولې وي او بیا هم د ګناهونو نه پهٔ ډکو کارونو کښې اخته وي ❁ ځومره حاجیان داسې دي ځوک چې پهٔ لکونو روپۍ خرچ کوي او حج خو کوي خو د ګناهونو نه نهٔ منع کیږي ❁ ځومره تلاوت کوونکي داسې دي کوم چې د قرآنِ کریم د تلاوت باوجود پهٔ ګناهونو کښې اخته وي- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ وفرمائیل: افضل بنده هغهٔ دے کوم چې پرهیزګاري اختیار کړي، ګناه پریږدي- چې کله بنده ګناه پریږدي نو د هغهٔ نیکۍ مکملې شي- ځکه که ځوک خپلې نیکۍ بچ ساتل غواړي، د نیکو مکملې طریقې پوره کول غواړي نو هغهٔ له پکار دي چې ګناه پریږدي-

## بغیر دحسابه بخښنه

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: **اللّٰه پاک** حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام ته وحي ولیږله، اوئې فرمائیل: اے موسیٰ! د قیامت پهٔ ورځ باندې به زهٔ د بندګانو نه حساب اخلم خو پرهیزګاره---!! د هغوئې به عزت کولے شي او هغوئې به هم بغیر د حساب نه جنَّت ته رَسولے شي- (1)

## پهٔ نُور کښې پټ انسان

پهٔ یو روایت کښې د یو پرهیزګاره بنده ډیر د کمال فضیلت بیان شوے دے، امام ابن ابي دُنیا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ روایت لیکلے دے: د قیامت پهٔ ورځ باندې به یو (پرهیزګاره) بنده د **اللّٰه پاک** پهٔ بارګاه کښې پیش کړے شي، هغهٔ به نُور پهٔ خپله ولقه کښې واخلي، بیا به هغهٔ د خلقو د سترګو نه پناه شي، هغهٔ ته به اعمال نامه ورکړے شي، پهٔ هغې کښې به واړه واړه

[1]... موسوعه ابن ابی دنیا، کتاب الورع، جلد:1، صفحه:227، حدیث:181-

ګناهونه خو ليکلے شوي وي خو غټ ګناهونه کوم چې هغۀ ته ياد وي، پۀ اعمال نامه کښې به موجود نۀ وي- يوې فرښتے ته به مهر بنده اعمال نامه ورکړے شي- حکم به وشي: زما بنده د جنَّت طرف ته بوځۀ! چې کله دا پۀ پل صراط باندې تيريږي، اخري غاړې ته ورسي، بيا دۀ له دا اعمال نامه ورکړه- نو فرښته به دغه بنده بوځي او د جنَّت طرف ته به روان شي، چې کله د پل صراط اخرى غاړې ته نزدې ورسي نو هغۀ له به مهر بنده اعمال نامه ورکړے شي، بنده به خپله اعمال نامه برسيره کړي، پۀ هغې کښې به هٔغه اعمال هم وي کوم چې دۀ ته معلوم وي- فرښته به وائي: ما ته نه دي معلوم چې پۀ دې کښې څۀ ليکلي دي، ما له خو مهر بنده اعمال نام راکړے شوې وه او **الله پاک** فرمائيلي دي: اے زما بنده! **ستا د عزت کولو د پاره ستا د دې اعمالو حساب وانخستے شو-** [1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور وکړئ چې دا څومره کرم دے- کوم بنده چې پۀ دې دُنيا کښې د ګناهونو نه ځان ساتي، پرهيزګاري اختياروي، نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د قيامت پۀ ورځ باندې به د هغۀ عزت زياتولے شي، د بشري تقاضې پۀ بنياد چې هغه کوم ګناهونه کړي وي، هغۀ به د فرښتو نه هم پټ ساتلے شي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پرهيزګاره بنده به بغير د حساب نه جنَّت ته داخلولے شي- **الله پاک** دې مونږ ته توفيق راعطا کړي، کاش چې مونږه د ګناهونو نه بچ کيدونکي جوړ شو- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د ګناهونو نه د بچ کيدو طريقه

اوس مسئله دا ده چې د ګناهونو نه به څنګه بچ کيږو؟ ظاهره ده چې کله معلومه شي چې کوم يو کار د ګناه دے، نو بيا به د هغې نه بچ کيدے شو، پۀ افسوس سره وايم چې نن سبا د دِيني معلوماتو ډير کمے دے، خلقو ته هډو معلومه نه ده چې کوم يو کار د ګناه

---

[1] ...موسوعه ابن ابي دنيا، کتاب الورع، جلد:1، صفحه:228، حديث:182-

دے او کوم یو کار د نیکۍ دے- ځکه د ټولو نه وړومبے د ګناهونو معلومات حاصل کړئ، د مکـتبة الـمدینه پۀ دوو جلدونو باندې مشتمل کتاب دے: **جہنم میں لے جانے والے اعمال**- دغه شان یو بَل کتاب دے: **76 کبیرہ گناہ**- داسې یو کتاب دے: **جہنم کے خطرات بھی ہے**- دا کتابونه حاصل کړئ، دا ولولئ، د ګناهونو معلومات به درته حاصل شي او بیا به د هغې نه د بچ کیدو ذهن هم جوړ شي-

د دې سره سره که مونږه د عاشقانِ رسول سره پۀ قافلو کښې سفر شروع کړو نو یقین وکړئ چې ډیرې فائدې به مو نصیب شي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قافلو پۀ برکت سره ❁ زیات وخت پۀ جومات کښې تیریدل نصیب کیږي ❁ نـمونځونه د جَمعې سره کول اسانیږي ❁ د نفلونو کولو موقع میلاؤیږي ❁ عِلمِ دِین زده کول نصیب کیږي ❁ اخلاق ښه کیږي ❁ کردار ښه کیږي ❁ زړۀ صفا کیږي ❁ باطني بیمارياني لرې کیږي ❁ او اَلْحَمْدُلِلّٰه! د نیکو جذبه او د ګناهونو نه نفرت هم نصیب کیږي- ځکه کم از کم پۀ هره میاشت کښې د دریو ورځو قافله کښې سفر معمول جوړ کړئ! عام طور د فیضانِ مدینه نه د هرې جُمعې پۀ ورځ قافلې سفر کوي، جدول جوړ کړئ او هُم هره میاشت پۀ قافله کښې ځئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ډیرې زیاتې د دین او د دُنیا فائدې به مو نصیب شي- **اللّٰه پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مُطِیع اپنا مجھ کو بنا یاالٰہی! | سدا سُنّتوں پر چلا یاالٰہی!
خطاؤں کو میری مٹا یاالٰہی! | مجھے نیک خصلت بنا یاالٰہی!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د اعتکاف ترغیب

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د رَمَضَانُ المُبَارَک میاشت نزدې راروانه ده- دا مبارکه میاشت د ډېرو برکتونو والا میاشت، د رحمان میاشت، د قرآن د نازلیدو میاشت او د بخښنې میاشت ده-

عَجِّلْ عَجِّلْ یَا رمضان ۔۔۔ جان مری تجھ پر قربان
آ بھی جا ماہِ سُبْحٰن ۔۔۔ جلدی جلدی آ رمضان
جب بھی آتا ہے رمضان ۔۔۔ جان میں آجاتی ہے جان
خوب ہے رمضاں کی بھی شان ۔۔۔ اِس میں اُترا ہے قرآن
مجھ کو مدینے میں رمضان ۔۔۔ کاش! میسر ہو رحمٰن
آجا آ بھی جا رمضان ۔۔۔ تجھ پہ فدا عطّارؔ کی جان

**الله پاک** دې زمونږه د رَمَضَانُ المُبَارَک د لیدلو، په دې کښې د ښو ډېرو روژو د نیولو، د ښه ډېر عبادت کولو توفیق نصیب کړي- د رَمَضَانُ المُبَارَک یو ډېر اهم عبادت اعتکاف هم دے- نفل اعتکاف خو هر وخت کیدے شي خو کوم اعتکاف چې سنّتِ مؤکده دے، هغه هم په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې کیږي- د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د رَمَضَانُ المُبَارَک د ټولې میاشتې اعتکاف هم ثابت دے او د اخري عشرې اعتکاف خو زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېر زیات خوښ وو، نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اخري عشرې د اعتکاف ډېر اهتمام فرمائیلو- تر دې پورې چې یو ځل یـې په څهٔ وجه د رَمَضَانُ المُبَارَک اعتکاف ونکړے شو نو رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شوال کښې اعتکاف وفرمائیلو- (1)

---

1... بخاری، کتاب الاعتکاف، باب الاعتکاف فی الشوال، صفحه:533، حدیث:2041۔

## د اعتکاف فضائل

❁ د مسلمانانو د خورې مور جانې حضرت عائشه صِدّيقه، طيبه طاهره رَضِیَ اللہُ عَنْہا نه روايت دے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: مَنْ اِعْتَکَفَ اِیْمَانًا وَّاِحْتِسَابًا غُفِرَلَہٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِہٖ يعني چا چې د ايمان سره او د ثواب حاصلولو پۀ نيت اعتکاف وکړو د هغۀ وروستني ګناهونه به اوبخښلے شي-[1] ❁ پۀ يو بل روايت کښې دي: چا چې پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف کښې لس ورځې اعتکاف وکړو هغۀ داسې دے لکه چې دوه حجونه او دوه عمرې يې وکړې-[2]

## د اجتماعي سُنَّت اعتکاف ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰہ! د عاشقانِ رسول ديني تحريک پۀ ټوله دنيا کښې د نيکئ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د فيضان موندلو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ- اَلْحَمْدُلِلّٰہ! د دعوتِ اِسلامي د خارني لاندې پۀ ټوله دنيا کښې پۀ زرګونو ځايونو کښې اجتماعي اعتکاف هم کولے شي، تاسو هم کوشش وکړئ چې د روژې د ټولې مياشتې د اعتکاف سعادت حاصل کړئ! بلکې پۀ عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه (کراچی) کښې اعتکاف وکړئ! چې هلته به مو د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د وخت د يو کامِلي وَلي سره د اعتکاف کولو سعادت نصيب شي نو د دې برکتونه به هُم جدا وي- اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې به د ګناهونو نه د بچ کيدو،

---

[1] ...جامع صغير، صفحه:516، حديث:8480-

[2] ...جامع صغير، صفحه:516، حديث:8479-

د نیکو کولو، د نفل عبادتونو شوق زیاتیدو سره سره ډیر عِلمِ دِین هم زده کړئ۔

آئیں گی سنّتیں جائیں گی شامتیں | دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
تم سدھر جاؤ گے، پاؤ گے برکتیں | دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عطیاتو ترغیب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِیني تحریک دعوتِ اِسلامي دا وخت د اتیاؤ [80] نه پهٔ زیاتو شعبو کښې د دِین خدمت کوي ❁ د کنزُ الـمدارس بورډ پهٔ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❁ تقریباً د 16500 نه زیات جامعات او مدارسُ الـمدینه د هلکانو او جینکو (Boys & Girls) ماشومانو د پاره قائم دي، پهٔ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات (Specialization)، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ د جامعات او مدارسُ الـمدینه (بوائز اینډ گرلز) د طالبِ علمانو شمیره کم او زیاته 5 لاکھه 30 زره ده ❁ د زیات عمر اِسلامي ورونړو او خوئیندو ته د قرآنِ کریم تعلیم ورکولو د پاره اوسه پورې تقریباً د 74 زره 887 مدارس الـمدینه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د لوستونکو شمیره د 4 لاکھه 26 زره نه زیاته ده ❁ د فیضان آن لائن اکیډمۍ پهٔ ذریعه تقریباً 24 زره طالبِ علمان دیني تعلیم حاصلوي ❁ اوسه پورې تقریباً 21 دار الافتاء اهلسنت جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د شرعي رهنمایو شمیره د میاشتې اوسطاً 20 زره ده ❁ د الـمدینةُ العلمیه (Islamic Research Center) پهٔ ذریعه پهٔ دیني لټریچر باندې تحقیقي کار کیږي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې شعبے لاندې اوسه پورې پهٔ 1784 کتابونو او رسالو باندې کار

شوے دے، پۀ دې شعبه کښې ګڼ شمير مَدَني علمائے کرام فريضې ترسره کوي، د **اللّٰه پاک** پۀ کرم سره دعوتِ اِسلامي دې مَدَني علمائے کرامو ته باقاعده تنخواګانې ورکوي ❀ د ديني لټريچر چاپ کولو د پاره دعوتِ اِسلامي خپله اشاعتي اداره مکتبة المدينه جوړه کړې ده، چرته چې پۀ بهترين او ښکلي انداز کښې کتابونه چاپ کولے شي، د تقسيمِ رسائل (يعنې د مختلفو کتابونو او رسالو مفت تقسيم کولو) سلسله هم وي ❀ پۀ ټوله دُنيا کښې د ديني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله تر مرکزي مجلسِ شُوریٰ پورې يو نظام جوړ دے، ښار پۀ ښار، کلي پۀ کلي ذمه داران موجود دي ❀ د عاشقانِ رسول تربيت کولے شي او دوئي د ديني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته ليږلے شي، دوئي ته باقاعده تنخواګانې ورکولے شي او هغوئي فَارِغُ البَال (يعنې د ګټې نه بے پروا) کيدو سره د دِين خدمت کوي ❀ د ميډيا مختلف پليټ فارمز، مثلاً ❀ پرنټ ميډيا (يعنې ماهنامه فيضانِ مدينه کومه چې دا وخت پۀ 7 مختلفو ژبو کښې چاپ کيدونکې کثير الاشاعت مياشتنی [يعنې ماهنامه] ده د دې پۀ ذريعه) ❀ سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب(***YouTube***)،فيس بک(***Facebook***)،انسټاګرام(***Instagram***)وغيره باندې موجود تقريباً 100 اکاؤنټ، پۀ کومو باندې چې)تقريباً 50 ملين(***Million***)يعنې 5 کروړه فالورز (***Followers***)دي او د ويوز شميره د بلينز (***Billions***)يعنې د 100 کروړه نه هم زياتو پورې رسيدلې ده- ❀ او مَدَني چينل اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربئ د ويب چينل پۀ ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي ❀ د آئي ټي شعبے د طرف نه اوسه پورې **32 موبائل ايپلي کيشن** او **40 اِسلامک ويب سائټس** جوړ کړے شوي دي ❀ پۀ ټوله دُنيا کښې د مسلمانانو د خير خواهئ د پاره د ايف جي آر ايف (***Faizan Global Relief foundation***) شعبه جوړه ده، د

کومې د لاندې چې ❁ 34 لاکھه 673 وَنې نالې کړے شوې دي ❁ تقريباً د 76 لاکھه 82 زره 958 ګسانو امداد شوے دے ❁ 5 زره 566 کوروته جوړ کړے شوي دي ❁ 75 زره 721 د وینې ډراپونه عطیه کړے شوي دي ❁ هیلتھ کئیر سنټر ته اوسه پورې د 61 زره 667 مریضان راغلي دي-

**تاسو هم د دین د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده په هرقِسمه جائز، دیني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني او د خير ښیګړې په کارونو کښې لګیدے شی د پاره د دې چې زیاتیدونکي خرچې پوره کړے شي-**

دعوتِ اسلامی کی قیّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: مدرسةُ الـمدینه بالِغان

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د ګناهونو نه د نفرت د جذبې موندلو، د نیک نـمونځ ګزاره جوړیدو د سعادت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د دیني تحریک دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! په 12 دیني کارونو کښې هم ښه په شوق سره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! ژوند به مو ښه شي، که **الله پاک** وغوښتل نو د دُنیا نه به د بے رغبتۍ دولت هم درنصیب شي او اَخلاق او کردار به مو هُم ښه شي- په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: مدرسةُ الـمدینه بالِغان هم دے په کوم کښې چې د صحیح تجوید او قراءَت سره قرآنِ پاک زده کولے او ښودلے شي-

په حدیثِ پاک کښې دي: په تاسو کښې بهتر هغهٔ دے څوک چې قرآن زده کړي او [نورو

ته يـې] وښائي۔ [1] ❁ قرآنِ مجيد د **الله پاک** کتاب دے ❁ د بندګانو پهٔ نوم د رَبِّ کريم پيغام دے ❁ **خو افسوس!** نن مسلمانان د قرآنِ کريم نه ورځ پهٔ ورځ لرې کيږي ❁ ډير خلق پهٔ کتلو هم صحيح قرآنِ مجيد نشي لوستلے ❁ څوک يـې چې لولي هغوئي هم پهٔ تجويد او مخارج کښې داسې غلطيانې کوي، چې د هغې پهٔ وجه يـې نـمونځ هم نه کيږي۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي پهٔ مختلفو جوماتونو او مارکيټونو وغيره کښې روزانه د مدرسةُ الـمدينه بالِغان پهٔ کلاسونو لګولو او د قرآنِ کريم پهٔ فيضان عام کولو کښې مصروف دے ❁ پهٔ کومو کښې چې پهٔ صحيح تجويد او مخارج سره قرآنِ کريم لوستلے او ښودلے شي ❁ فرض عُلُوم هم ښودلے شي ❁ سُنَّت او آداب هم ښودلے شي او ❁ د ترجمې او تفسير اوريدو موقع هم ميلاويږي۔ تاسو هم پهٔ دې کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به درنصيب شي۔ راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو۔

## د فيشن کوونکي پهٔ ژوند کښې سپرلے راغلو

د حيدر آباد، (سندهـ، پاکستان) د اوسيدونکي يو اِسلامي ورور بيان دے: چې زهٔ يو فيشن کوونکے ځلمے ووم، د دُنيا پهٔ موج مستئ کښې ورک، د خپل اخِرت د انجام نه مې غافله د ژوند ورځې شپې تيرولې، زما د ګناهونو نه پهٔ ډک ژوند کښې سپرلے څهٔ داسې راغلو چې زما پهٔ مدرسةُ الـمدينه بالِغان کښې د داخلې سعادت نصيب شو، بس بيا زما د نيک بختئ سفر شروع شو، د مدرسةُ الـمدينه بالِغان برکتونو زما تيارهٔ ژوند د **الله پاک** پهٔ ويره او د خوږ مصطفٰے کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ عشق روښانه کړو، پهٔ دې کښې ما ته د قرآنِ پاک د تعليم سره سره پهٔ سُنّتو باندې د عمل کولو جذبه هم نصيب شوه او پهٔ هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو سعادت هم رانصيب شو۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه!

---

[1]… بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب خیرکم من ...الخ، صفحه:1299، حدیث:5027۔

پۀ مدرسةُ الـمدينه بالِغان کښې د لوستلو پۀ برکت زما پۀ ژوند کښې سپرلے راغلے، د فيشن کولو، او د موج مستۍ نه خلاصے هم رانصيب شو۔

| | |
|---|---|
| ترا شکر مولیٰ دیا مدنی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مدنی ماحول |
| دعا ہے یہ تجھ سے دل ایسا لگا دے | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مدنی ماحول [1] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نيک اعمال *(Naik Amal)* موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د نيک جوړيدو او د نيکو عملونو زياتولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې **نيک اعمال** ***(Naik Amal)*** دے۔ دا ايپلي کيشن پۀ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پۀ دې ايپلي کيشن کښې د اِسلامي ورونړو، اِسلامي خوئيندو او طالب علمانو د پاره بيله، بيله رِساله موجوده ده ❁ دا پۀ 6 مختلفو ژبو ❁ انګلش ❁ اُردو ❁ هندی ❁ بنګالی ❁ ګجراتی او ❁ سندهی کښې استعماليدے شي ❁ پۀ دې کښې پۀ مختلفو نيک اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي ❁ د هر سوال لاندې 30 خانې دي، هره ورځ د خپلې خوښې څۀ وخت هم مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه واخلئ، د دې مطابق ژوند تيروئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د دې پۀ برکت به د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو ذهن جوړيږي، د زړۀ صفا والے به نصيب کيږي او کردار به مو صفا سوترا، ښکلے کيږي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه: 648647۔

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چينل باندې لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې هفتې پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نمانځه نه پس به (تقريباً 8:30 بجې) اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! پهٔ مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د خفګانونو عِلاج رسالې اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي!

بخاري شريف د حديثونو مبارکو پهٔ کتابونو کښې د ټولو نه اعلیٰ مقام لري، د دې کتاب لوستل او نورو ته ښودل د بزرګانو عمل دے، المدينة العلميه (اِسلامک ريسرچ سنټر، دعوتِ اِسلامي) د حديثِ پاک د دې ډير اهم کتاب مختصر شرح پهٔ نوم د ضياءالقاري شرح مختصر بخاری د ليکلو سعادت حاصل کړے دے، تاسو دا هم د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه پهٔ 1700 روپۍ پهٔ بيعه واخلئ، پخپله يې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم۔ تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي

دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِى فَقَدْ اَحَبَّنِى وَمَنْ اَحَبَّنِى كَانَ مَعِىَ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نوم کیښودو سُنَّت او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د قیامت په ورځ به تاسو په خپلو او ستاسو د پلارانو په نومونو رابللے شئ ځکه خپل ښه نومونه کیږدئ۔ (2)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ماشوم له ښه نوم کیښودل پکار دي د ډېرو خلقو داسې نومونه دي د کومو چې څهٔ معنې نشته یا د هغې بدې معنې دي د داسې نومونو کیښودو نه ډډه وکړئ ❁ د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام او د صحابهٔ کرامو او تابعینو عَلَيهِمُ الرِّضوَان په نومونو باندې نومونه کیښودل بهتره خبره ده، امید دے چې د هغوئي برکت به په ماشوم کښې کیښودے شي ❁ که ماشوم ژوندے پیدا شي او که مړ، د هغهٔ بدن که پوره وي او که نهٔ، بهر حال د هغهٔ نوم کیښودل پکار دي ❁ په حدیثِ پاک کښې دي: د ګچه ماشوم (یعنې د کوم ماشوم چې کوم اندام جوړ شي یا په خېټه کښې د څلورو میاشتو شي د هغهٔ) نوم کیږدئ چې الله پاک به د دهٔ په ذریعه باندې ستاسو د عمل تَله درَنه کړي ❁ جبریل یا میکائیل وغیره نوم مهٔ ږدئ ❁ یاسین یا طٰهٰ نوم کیښودل منع دي ❁ محمد یاسین نوم هم مهٔ ږدئ، آؤ که چرې وغواړئ نو غُلام یاسین او غلام طٰهٰ نوم کیږدئ ❁ کوم نومونه چې غلط وي هغه بدلول پکار دي او ښهٔ

---

[1]…تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

[2]…ابو داؤد، کتاب الادب، باب:فی تغییر الاسما، صفحه:775، حدیث:4948۔

نوم کیښودل پکار دي ځکه چې د خپل اُمَّت سره محبت کوونکي خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به غلط نومونه په ښو نومونو باندې بدلول- د یوې زنانه نوم عاصِیَه (یعني ګنهګاره) وو، رسولِ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغې نوم بدل کړو او جمیله یې کیښودلو- (**نوټ:** یو نوم آسیه هم کیښودلے شي، دا ښه نوم دے، په کیښودو کښې یې هیڅ باک نشته)

❁ داسې نومونه کیښودل جائز نهٔ دي کوم چې د غیر مسلمو د پاره خاص وي ❁ غُلامِ رسول، غُلامِ صدیق، غُلامِ حسین، غُلامِ غوث، غُلامِ رضا نوم کیښودل جائز دي-[1]

د خپلو بچو د ښو ښو اِسلامي نومونو کیښودو او د هغې د تفصیلي احکامو نه د ځان خبرولو د پاره **الـمدینةُ الـعلمیه** (اِسلامک ریسرچ سنټر) ډیر ښکلے کتاب: **نام رکھنے کے احکام**- د مکـتبة الـمدینه د یوې څانګې نه حاصل کړئ! پخپله یې هم ولولئ او نورو له هم ترغیب ورکړئ!

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

رَبّ کے در پر جھکیں التجائیں کریں | باب رحمت کُھلیں قافلے میں چلو
عاشقانِ رسول ان سے رحمت کے پھول | آؤ لینے چلیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... 550 سنتیں اور آداب، صفحه:6863 ملتقطاً-

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰى اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

### ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته کړے شي.[2] راځئ

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لَوَلي نو داسے ئې لَوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى لَهٗ

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

2... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيع اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴾1﴿ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵